کله چې په تاسو کې یو څوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، که چېرته يې په منځ کې ونه، ديوال او يا ډبره راشي او بيا ورسره مخ شي، نو بيا دې پرې هم سلام واچوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "کله چې په تاسو کې يو څوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، که چېرته يې په منځ کې ونه، ديوال او يا ډبره راشي او بيا ورسره مخ شي، نو بيا دې پرې هم سلام واچوي".

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم يو مسلمان بل مسلمان ته په سلام اچولو هڅوي؛ هر کله چې ورسره مخ کيږي، که څه هم سره يو ځای روان وي او کله يې چې تر منځه کوم شی خنډ واقع شي لکه: ونه، ديوال او يا لويه ډبره او بيا ورسره مخ شي، نو بيا ځل دې پرې سلام واچوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3552